پېشلمی وکړئ، ځکه چې په پېشلمي کې برکت وي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "پېشلمی وکړئ، ځکه چې په پېشلمي کې برکت وي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په پېشلمي ټینګار کړی، کوم چې د شپې په وروستۍ برخه کې روژې ته د چمتوالي لپاره خوراک کول دي؛ ځکه چې (برکت) لوی خیر، اجر او ثواب پکې دی او د شپې په وروستۍ برخه کې د دعا لپاره راپاڅېدل او، روژې ته ځان پیاوړی کول، تکړه کېدل او پر ځان د روژې سختي کمولو کې مرسته کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4498